**ملګری ملتونه پخپل ژور درناوي چې اسلامی عقيدې،دودونواو فرهنګ ته يې لری يوځل بيا ټينګار کوي**

**کابل، د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ ۲۱ نيټه (۱۳۹۰ کال د حوت دوهمه)-** د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو دسر منشي ځانګړي استازي يان کوبيش نن د غرمې وروسته د افغانستان د علماوو د شورا د مشر مولوي قيام الدين کشاف سره ملاقات وکړ.

د بګرام په قرار ګاه کې د مقدس قران سره د سهوې له مخی د ناسم چلند له امله د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي يان کوبيش مولوي قيام الدين کشاف ته څرګنده کړه چې هغه د دغې غمناکې غلطۍ له کبله چې د خلکوديني احساساتو ته يې صدمه رسولې ده خپلې اندېښنې او نګرانۍ د افغانستان د خلکو سره شريکوي. هغه په دې ټينګار وکړ چې ملګري ملتونه په ژوره توګه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د خلکو د اسلامي عقيدې، دودونواو فرهنګ درناوي کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي په قناعت سره د دې يادونه وکړه چې د آيساف د ځواکونو قوماندان جنرال الن په چټکۍ سره د افغانستان د خلکو او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د چارواکو څخه معذرت او بخښنه غوښتې ده او د دغې پېښې د څېړنې حکم يې ورکړی دی. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړي استازي خپل بشپړ باور څرګند کړ چې آيساف به ژر تر ژره دغه څېړنه تر سره کړي او هر څومره ژر چې کيدلای شي د دې د مناسب تعقيب لپاره به اقدامات وکړي او هغه کسان چې د دې پيښې تر شا لاس لري په بيړې سره تر پوښتنې او حساب د لاندې راولي .

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**